چا چې معاهد وواژه نو د جنت بوی به حس نه کړي، پداسې حال کې چې بوی يې د څلويښتو کالو واټن په اندازه لرې حس کيږي

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «چا چې معاهد وواژه نو د جنت بوی به حس نه کړي، پداسې حال کې چې بوی يې د څلويښتو کالو واټن په اندازه لرې حس کيږي».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه چا لپاره د سخت ګواښ بيان کړی دی چې معاهد ووژني - او معاهد هغه چاته ويل کيږي چې د کفري هيواد څخه اسلامي هيواد ته د امن د ژمنې ورکولو پر اساس داخل شوی وي - چې دغه کس ته به د جنت بوی نه رسيږي، حال دا چې بوی يې د څلويښتو کالو په واټن کې موندل کيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/64637